




د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه
د نشر نيټه : ۶ جون ۲۰۱۳ ميلادی

# د ژوندون ښاپيری

بيا له ورايه چې نڅيږي

راګوري

خنداګانې کړي

بيا راغلی په خوښی ده

په زړه ګي يې

ډيوه بله

بيا له نازه

شوله مسته

مست وجود کړلو

بيا يې په سترګو کې

د خوښي سمندر

ونڅاوه

بيايې په پښو کې

دم راوستو

بيايې په مټو کې

توان راوستو

بيا راته

مسته دا

نړی شوله

بيايې له شوقه

په هوا کړمه

بيايې كلك په ځكمه

وويشتم

بس پوشوم

چې دا

د نفس او هوس

د ژوندون

ښاپيرې ده

چې بيا راته

نخيږي

خندا ګاني كړي

****

مجيب الرحمن « خطيبي »

بازگشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org